خوشحال آصفي ۲۰۱۷/۰۴/۰۹

جنجوعه او عمران خان ته؛ ببولالي مه وایاست، زمونږ تاریخ مطالعه کړئ

لکه څنګه چې پاکستاني چارواکو تل خپل د بام واوري په افغانستان اچولي دي؛ دا ځل یې دوه بناغلو د ملي امنیت سلاکار او د تحریک انصاف ګوند مشر عمران خان نوي ببولالي زمزمه کړې دي. د پاکستان د ملي امنیت سلاکار ناصر جنجوعه ویلي، په پاکستان کې افراطیت او سختدریځي د افغانستان د جګړې محصول دی. جنجوعه په ډیرې سپین سترګۍ په خپل منافقانه سیاست پرده واچوله او دا یې رد کړه چې پاکستان په افغانستان کې دوه مخیزه پالیسي پر مخ بیایي؛ یعني له یوې خوا د طالبانو ملاتړ کوي او له بلې خوا وایي چې له امریکا سره متحد دی. جنجوعه د خپلې خبرې د ثبوت لپاره وویل، که پاکستان د طالبانو ملاتړ کاوه، طالبانو به د پاکستان پر ضد جنګ نه کاوه.
د پاکستان د ملي امنیت سلاکار همداراز ادعا وکړه چې که په اتیایمه لسیزه کې پاکستان د شوروي اتحاد په وړاندې له افغانستان سره مرسته نه وای کړې، اوس به افغانستان د نړۍ په نقشه کې نه وای. ده د خپلو ادعاوو په دوام کې وویل چې امریکا هم د پاکستان له برکته د نړۍ په یوازیني زبرځواک بدله شوه. له دې یوه ورځ وړاندې د پاکستان د تحریک انصاف ګوند مشر عمران خان هم په اتیایمه میلادي لسیزه کې د افغان مجاهدینو ملاتړ وغانده اوویې ویل چې د پاکستان دا تېروتنه د دې سبب شوه چې په پاکستان کې سختدریځي خپره شي.
لومړی راځم د جنجوعه د هغې خبرې ځواب ته چې وایي که په اتیایمه لسیزه کې پاکستان د شوروي اتحاد په وړاندې له افغانستان سره مرسته نه وای کړې، اوس به افغانستان د نړۍ په نقشه کې نه وای. زه په دې باوري یم چې اول خو به ناصر جنجوعه دا خبرې د نشې په حالت کې کړې وي او که د نشې په حالت کې نه وي نو بیا به یې د افغانستان تاریخ له یاده وتلی وي. ځکه په نشه کې د انسان عقل له منځه ځي او بیا لوی لوی خیالونه ویني او داسې خبرې یې له خولې وځي چې له حقیقته ډیرې لویې وي. که ناصر جنجوعه ته تاریخ د افغانستان تاریخ معلوم وای نو پرته له شکه چې په خپله کوچنۍ خوله یې دومره لویه خبره نشوه کولی. زه جنجوعه ته توصیه کوم چې لومړی باید د افغانستان تاریخ مطالعه کړي او بیا دې په اوداسه کې د افغانستان نوم واخلي. افغانستان خو ۵۰۰۰ کلن خپل آزاد او خپلواک تاریخ لري. په دغو کلونو کې تل خپلواک اوسیدلی دی او که په ناپوهۍ کې پرې چا یرغل کړی نو داسې غاښ ماتوونکی ځواب یې لیدلی چې تر ننه یې نسلونه نسلونه یاد ساتي.
او پاکستان خو اصلاً تاریخ نه لري. دا خو له دویمې نړیوالې جګړې وروسته کله چې هندوستان له بریتانیا خپلواکي واخیسته؛ نو د انګلیس شیاطینو په غوښتنه او په سیمه کې د انګریز د یو ښه غلام او لاسپوڅي په توګه د افغانستان او هندوستان له خاورې جلا شو. تاسې خو په خپل ۶۶ کلنه موده کې چې تاریخ ورته نشو ویلی؛ د انګریز غلامي کړي او د بل چا په موګي دي حالت ته رسیدلي یاست. که تاسې جنجوعه او عمران خان ته د افغانستان تاریخ مطالعه سخته وي نو بیا مو خپله ۶۶ کلنه موده وګورئ چې په تیرو لسیزو کې له یواځې له هندوستانه څو ځلي شرمیدلي ماته خوړلې؟ آیا هغه ورځ مو په یاد ده چې په یوه ورځ مو ۹۰۰۰ پوځیان هندوانو ته سره د وسلو او تجهیزاتو تسلیم شول؟ یو هیواد چې اصلاً خپل تاریخ ونه لري؛ څنګه د یو ۵۰۰۰ کلن تاریخ لرونکي هیواد ته د نړۍ له نقشې د ایستلو خبره کوي؟
دویم راځم د ناصر جنجوعه هغې خبرې ته چې په خپلو منافقانه سیاستونو یې د پردې اچولو هڅه کړې او ویلي دي چې که پاکستان د طالبانو ملاتړ کاوه، طالبانو به د پاکستان پر ضد جنګ نه کاوه. په دې خبرې سره مو موافق یو چې په سیمه کې ترهګري د اتیایمو لسیزو پر مهال په افغانستان کې د پاکستان لخوا د جهادیانو د ملاتړ له برکته ده. خو آیا په دې مو کله فکر کړی چې ساتل شوی مار یوه ورځ خپل خښتن ته هم ټک ورکوي؟ تاسې جنجوعه خپل خپل ساتلي مار خوړلي یاست. همدا تاسو وئ چې د افغانستان د بربادۍ لپاره مو د سپیڅلي جهاد له نومه ګټه پورته کړه او د څو تنو منحوسو څېرو په لاس مو ټول افغانستان کنډو کپر کړ. هغه تاسې وئ چې د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو د پښتنو د ځپلو لپاره مو د طالب په نوم ناسور رامنځته کړ. او هغه هم تاسې وئ چې د ډاکټر نجیب الله له واکمنۍ وروسته مو خپل په لاس جوړ کړي طالبان په رسمیت وپیژندل. که تاسې هغه مهال د افغانستان په جګړه کې خپلې ګټې نه وې لټولې او طالب ته مو له خپلې کمبلې لاندې ځای نه وی ورکړي نو نن به ستاسې ساتل شوي مار تاسې ته ټک نه درکولو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدا اوس هم ستاسي د آی ایس آی جاسوس ملایان لکه ملا فضلو او مولانا سمیع الحق طالب ترهګر خپل بچیان او اولادونه بولي. همدا ستاسي د استخباراتو پخواني مشر حمیدګل ملا عمر خپل ښي مټ بللو. او همدا ستاسي دیکتاتور کودتایي ولسمشر پرویز مشرف مو د افغانستان او ستاسي د پاکستان د بدبختۍ د لامل په روزلو اعتراف کوي او پرې ویاړي. تاسي عمران خان او ناصر جنجوعه چې نن د افغانستان د جهاد ملاتړ د ترهګرۍ زیږندنه بولئ؛ له خوبه رابیدار شئ او لږ له ځان سره په ګریوان کي فکر وکړئ چې آیا ساتل شوی مار خپل خاوند ته ټک نه ورکوي؟

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ